شهسوارسنگروال

۲۰۲/۱۰/۱۱

که انسان نه وی تاریخ به نه وی

۶مه برخه

دافغانستان اولرغونی هند ،ګډې تاریخي پولې:

د لرغونپوهانو د څېړنې له مخې، چې د پنجاب په «هاراپه» او د سیند رود په لمنه، په موهنجودارو (mohenjo daro) کې وشوې. یو شمېر هډوکي تر لاسه شول، چې د توکمپېژندنې له مخې پوهانو دا ډاګیزه کړه، چې د دغې سیمې خلک هماغه هندي، مدیترانه یي او سومري وګړي ول چې په لرغونو زمانو کې دلته استوګن ول.
د دغو څېړنو پر بنسټ دا هم څرګنده شوه، چې د دوئ ژبنی او فزیکي جوړښت د هند د دوه کورنیو، هندو اریایي (اریایي ټبر) او په دراویدي (د دې ځمکې بومي وګړي) ټبرونو وېشل کیدل.
د هندو اروپایي وګړي سپین بخن او ژبه یې سانسګرت وه، خو دراویدي وګړو رنګونه یو څه تاریک او ژبه یې دراویدي وه.
د اریایانو له رسېدو دمخه د «ویدا» کتاب پر بنسټ، د لرغونې هند نوم سپتا سند saptasinde وه، خو په اوستا کې د دغه هېواد نوم هپته هندو haptenindu، یانې د اوو هندوانوهېواد پنوم یاد شویدی. ولې د ایندوس Hindus نوم د یادو نومونو په پرتله ډېر ځوان دی، چې ریښه یې سیند رود څخه اخستل شوې او دغه نوم په ۴ مه هجري پېړۍ کې غوره شویدی.
له پخوا زمانونه د هند په شمال کې، چېرته چې اریایان ودان ول دغه سیمې د آریا ورته aryavrte پنوم یا دولې، خو د هېواد په سهل کې، چې دراویدیان ابادول او په دغې سیمې یې واک چلوه، دېته یې بهارت baharat وایه.
د ۱۹۲۴ کال د کندنو له مخې، چې د سر جان مارشال له خوا د پنجاب په هاراپه او (موهنجودارو) کې شویدئ دا ښېي چې یو شمېر ښار ګوټي تر خاورو لاندې وموندل شول، چې عمر یې له مخنزیردي نه درې، څلور زرو کالو ته رسېږي.
د دغو موندنو په ترڅ کې دوه ښارګوټي چې په هړپه کې وموندل شو، په پرتلیزه توګه د بابل تمدن ته ورته ول.
ځنې څېړونکي لا د تمدن دغه توکي، د سومریانو له تمدن نه یو څه پرمختللي ښېي، چې موږ د کرهنې وسیلې، حمامونه، بېلابېل لوښي، د ښکلا او ښایست سامانونه، وسلې او ګاڼې سره او سپین زر، د اوبو څاګاني، د غلو دانو ګودامونه، د لیکدود نښې نښاني، بګې ګاني انځورونه سموڅوته ورته کورونه څرخی او نور د بیلګې په توګه یادولی شو.
د پام وړ خبره خو داده، چې په دغو موندنو کې د ښارګوټي په مینځ کې یو سړک تر سترګو کیږي، چې اوږدوالی یې ۸۰۰ متره او سوریې ۱۰ مترو ته رسیږي. ان تر دې چې په کورونو کې پخې خښتې هم کارېدلی دي.
لرغونپوهان پدې ټکي ټینګار کوي، چې د موهنجودارو لرغونی تاریخ له مخزیردي نه (۲۵۰۰-۳۰۰۰ م ز) پورې رسیږي او د هړپه تاریخي لرغونتوب له مخزیردی نه (۲۰۰۰-۲۵۰۰ م ز) کلونه په ګوته شویدی.
ولې کله چې خبره د اریایي ټبر کډوالی ته رسیږي، نو بیا لرغونو اریایانو هم یو څه لرغوني توکي او اثار د هند په خاوره کې په میراث پرې ایښي دي.
اریایان تل د څاروېیو د روزنی او پالنې لپاره څړ ځایونو ته کډه شویدي، نو هغه مهال چې د هنددوکش دواړو غاړو ته (۲۰۰۰ م ز) اباد شول، نو بیاد شمېر د زیاتوالي او د موسم په بدلون دېته اړ شول، چې د (۱۶۰۰ م ز شاوخوا) د خیبر له لارې هندوستان ته کډه شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوی په شمالي هند کي خواره شول او د هغې سیمې بومیان ، دوئ لومړی د راویدیان غلامان کړل.چې په ویدا کي دغو وګړو ته« دازیا dosya» او یا د دښمن نوم ورکړیدی او له دوئ سره یې د جنګي اسیرانو په څېر چلن کاوه.
د دې لپاره، چې اریایان پخپلو کي د دندو له مخې او د ټولنیز ژوند پر بنسټ وېپژندل شي، په څو برخو وېشل شوي ول:

- برهمنان Brahmans دوئ هغه مذهبي مشران او روحانیون ول چې خلکو ته به یې د ښوونې او روزنې سپارښتنه کوله.

- کشاترا Kshatriyas واکمن او پوځیان وګړي ول.

- ویسایار vaicyars سوداګر، د ورکړې او راکړې خاوندان.

- سودرا coudras خواریکښان او بزګران ول .

که څه هم له دغه وېش نه سر بېره نور لوی او واړه ټولګي هم ول، چې په هند کي ژوند کاوه.
د یاد وېش له مخې برهمنان په لرغوني هند کي د ډېر واک او ځواک څښتن ځکه ول، چې دوئ د ښوونکو دنده په غاړه درلوده.
په هند کي د لرغونو اریایانو په شتون، کرهڼې پراختیا وموندې، له اوسپنې نه یې د کرهڼې او ځنګل وهنې وسیلې جوړې کړې، د تېرې تورل، د فلزي او ډبرینو توکو جوړول، دانځورونو کښل، د څاروپیو روزل، سوداګریزه وده (۸۶۰ م ز شاوخوا کی)، چرم جوړول. دواګانی، عطرونه، قیمتی ډبرې او نورو پرمختګونو ته لاره پرانستل شوه.
ادبیاتو، د موسیقي هنر، نڅاوي، د قرباني دود، ولسي ادبیات، تاریخي ډوله حماسي، د مها بهارا ته او د رامایانه سرودونه، چې یوناني ایلیاد، او دیسه ته ورته ول ، وده او پرمختګ وکړ.
کله چې په سرکې اریایان هند ته ورسېدل د «پراکریت» پنوم یې ځانګړې ژبه درلوده چې وروروو یې سانسکرت ته وده وکړه.
دغو وګړو ویدي سرودونه له یوه نسل نه بل نسل ته خوله په خوله، سینه په سینه د شفایي (پلکلور) ادبیاتو په څېر لېږدول، دا ځکه چې دوئ په سر کي د کوم لیک او لوست څښتن نه ول.
د لومړي ځل لپاره د مخزیږي (۸۰۰-۹۰۰ م ز) کالو په شاو خواکي لیک پیل شو، د ویدا لومړی برخه خو هغسی هم په افغانستان کي کاږل شوي وه، نو د سانسګرت په ژبه ولیکل شو.
د ویدا له لیکلو وروسته، ددغو سروردونو اړوند د مهابهاراته او رامایانه، یو شمېر نور کتابونه مانتراس یا سرودونه، برهمانا یا تګلاره (اصول) مذهبي کړه وړه او د نورو سپېڅلو سر لیکونو څېړنې هم وکښل شوي.
د دغه مهال د لمانځنې سپېڅلي توکي د څاروپیو او شنېلیو (توتم totem) عبادت د نامتو ارباب النوع ناګاه naga، د اژدها رب النوع (هانومن)، د یاکشا yaks has، د لمر، سپوږمۍ، اسمان، ځمکه، اوراونور.
ولې د هند په مذهبي تاریخ کي چې کوم ستر فکری انقلاب مینځته راغی هغه د یو شمېر مذهبونو او دینونو رامینځته کېدل ول،چې دبیلګې په توګه یې دیوشمېرمذهبونویادونه اړینه بریښي.

برهمني مذهب:

ویدي عصر کي هندي اریایانو د څاروپیو او نباتاتو لمانځنه کوله، چې وروروي یو د بل پسې د خدایانو لمانځنې ته مخه کړه، خو هغه څه چې د یوې سترې موهمي پېښې په توګه مینځته راغلل هغه د برهمني دین وو. برهمنیزم د هندي اریایانو یو پخوانی دین وه چې د مخزیږ دي (۸۰۰-۵۰۰ م ز) کالو په شاوخوا کي مینځته راغی. دوی برهما brahma د جها ن خالق او له ټولو خدایانو لوړ ګاڼه.
د برهمن مذهب پلویانو لومړی په دېرې سادګۍ د پرلپسې ارباب الانواع لمانځنه کوله، چې وروروي د یوه مطلق صوفییزم بڼه خپله کړه، چې غوره موخه یې دا وه ، هغه څه چې په ټولو کایناتو کی شتون لري، خدای دی.
د دغه مذهب بنسټیزه توکي، چې دوئ پرې ډېره ډېره لګوله، د روح او ځان پېژندنې اداب او د قربانی دود، نیکي، ښه اخلاق او نور ټولنیز ارزښتونه ول. دوئ په فکري لحاظ د کارما karma سره یاني د تناسخ مفکوره، چې روح له یوه جسم نه بل ته انتقالیږي پیوند درلود.
دوی دېته ژمن ول، چې د انسان غوره هستي د هغه کردار د هغه شخصیت، د هغه اخلاق، د هغه اراده او نورې انساني ځانګړتیاوې دي، چې دي یې تر لاسه کوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د برهمنانو د فلسفی اصول د دوئ په کتاب (اوپانیشاد Upanishads) کې په ډاګه شویدی، چې په یو برخه کې داسې راغلي دي:
توله کې روح (اتمن atman) د جهان (د ټولو کاینات) یو غوره اصل دی، چې ټول توکي او څیزونه له هغه څخه پیدا کیږي.
برهمنیانو به د دولت پادشا سپېڅلی ګاڼه، نو یو لامل دا وه، چې د برهمنیزم د خپرېدو په رڼا کې لوی او واړه دولتونه (په ۶ شپږمې مخزیږدي پېړۍ کی) یو د بل پسې مینځته راغلل. ولې د خپل مینځني اوږدو جګړو له امله په پای کې دوه ستر دولتونه، یو یې د ګنګاه رود په مرکزي برخه کې د ماګاد Magadha پنوم او بل یې د هند په شمال لویدیځ کوساله (kocola) کی مینځته راغلل چې موږ یې د ساري په توګه یادولی شو.
دغه دولتونه د مخزیږدي پنځمې پېړۍ په پای کې پخپل مینځي جګړو کې ښکېل شول چې پای کې ماګاد د یوه پیاوړي مرکزي دولت بنسټ کېښود.
دا داسې مهال وو، چې د پارس امپراتور لومړي داریوش په هند برید وکړ او د پېښو سیاسي لوری یې واړوه.
له برهمني مذهب نه پرته په هند کې نور ادیان هم ول، چې شمېر یې لسګونه ته رسېده، ولې کوم چې ډېر نامتو وو، هغه د «بودا» دین وه، چې نه یوازې په هند کې ډېر پلویان او پیروان درلودل، ان اغیز یې تر افغانستان هم را ورسېد.

بودايي مذهب:

له «جاینی » دین نه وروسته په مخزیږدي پنځمې (۵ م ز) پېړۍ کې بودايي دین مینځته راغی.
د هند په تاریخ کې دا یو ستر فکري انقلاب وه، چې د ګوتاما Gautama بودا (۴۸۰-۵۶۰ م ز) له خوايي بنسټ کېښودل شو.
بودا د هند د بنارس په یوه شتمنه کورنۍ کې، چې پلار یې د «ساکیا» د کورنۍ مشر وه وزېږید.
بودا په ۱۹کلنۍ کې واده وکړ او په ۲۹ کلنۍ کې څلورو موهمو پېښو د ده فکر او اند ته ټکان ورکړ.
لومړی یې یو سپین ږیری ولید چې په ملا کړوپ و.
دویم یې یو ناروغ ولید، چې له ډېرو ستونزو سره لاس وګریوان دی.
دریم له یوې جنازې سره مخامخ شو.
څلورم یې یو مذهبي ذاهد تر سترګو شو.
هغه بودا، چې په نازو نعمت کې لوی شوي وه او پلار یې دده د روزنې، ښوونې او پالنې لپاره د ژوند ښه شرایط برابر کړی ول ، ولې یادو څلورو پېښو د ده په ذهن او فکر ژوره اغیزه وکړه او لکه څرنګه چې په برهمن مذهب کې د قرباني دود ډېر سپېڅلې وو، دارنګه بودا هم دېته چمتو شو، چې د قرباني له لارې نه زهني ارامتیا ته لاره پرانیزي.
ده خپله شتمني، د پاچاهي دب دبه او دژوند ټولې هوساینې پرېښودې او د ۲۹ کلنۍ نه راواخله تر ۳۵ کلنۍ پورې ریاضت ته مخه کړه.
له دغې ټاکلې مودې وروسته به بیا بودا د ونې لاندې ناست وو، خپلو پیروانو او پلویانو ته به یې د خپل فکر او اند ستاینه او سپارښتنه کوله.
ده له ۳۵ کلنۍ نه راواخله تر ۸۰ کلنۍ پورې د خپلې پوهې، عقیدې او تعلیماتو تبلیغ کاوه.
بودا هم د کارما karma قانون وپاله او په دوه ټکو یې ډېر ټینګار کاوه، لومړی د انسان نیک او ښه کارونه او همدارنګه بد او ناوړه کارونه پخپله انسان پورې اړه لري.
د ده د فلسفې دویم ټکی هماغه د تناسخ یاني د روح لېږد تفکر وو، چې یو نوی ژوند رامینځته کوي.
ده د هندوستان د جامعه شناسي او ټولنپوهنې له مخې له انسانانو سره توپېري چلند غنده او د انساني ارزښتونو ځانګړتیایی په اخلاقي چلن پورې تړل. بودا که له یوې خوا ټولنې ته د ټولنیزو ارزښتونو په رڼا کې د تعلیم او زده کړې سپارښتنه کوله، خو له بلې خوا یې په ټولنه کې د ناسمو او ناوړه کارونو څخه خلک راګرزول او په دغو ټکو یې ټینګار کاوه:

- څوک مه وژنی.

- غلامکوي.

- زنا مه کوی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ دروغ مه وايي او ناحقه شاهدي مه ورکوئ.

ـ له نېشه يې توکو ځان وژغورئ.

له دې سربېره بودا خپلو پيروانو او پلويانو ته نورې سپارښتنې هم کولې او د هرې سپارښتنې ټولنيز ارزښت يې د پام وړ وه، چې موږ د حقيقت موندنې ځلور توکي د ساري په توګه يادولی شو.

سکندر او هند:

د ايران او افغانستان له نيولو وروسته: سکندر په ۳۲۶ مخزيږدی کال په هند برید وکړ، لومړی د ټکسلا پاچا امپي ورته غاړه کېښوده، وروسته پدې نيت چې د هند نورې سيمې ونيسي، د يوې ناڅاپي ناروغي له مخې له هند نه د بابل په لور (۳۲۴ م ز) وخوځيد، خو په لاره کې ومړ.
په ۳۲۳ مخزيږدي کال موريانو د چندراګوپتا په مشرۍ پاڅون وکړ او د ټکسلا ښار، چې د مقدونيانو پلاز وه لاندې کړ، د لومړي ځل لپاره يې په هند کې د يوه ملي حکومت بنسټ کېښود.
له ده نه وروسته زوی يې بندو سارا (۲۹۶ م ز کال) او وروسته د بندوسارا زوی اشوکا (۲۷۳ م ز کال) واک ته ورسيد، ده يوه لويه ټولواکمنۍ يې جوړه کړه او بودايي دين يې د هند د سيمې د رسمي دين په توګه اعلان کړ، چې نه يوازې په ټول هند کې خپور شو، بلکې ريښې يې افغانستان او د هند يو شمېر ګاونډېيو هېوادونو ته خپرې شوې.
په هند کې تمدن هم ډېره وده وکړه او د صفر عدد يې اختراع کړ. په ټوله کې رياضي علومو ډېره پراختيا وموندې.
سره زر، مس، سرب، قلعی، اوسپنه او نور معدنيات په کار وولېدل.
د برهميزم له خپرېدو د مخه خلکو د طبعی توکو لمانځنه کوله، نو ځکه خو نجوم، طب او د ستورو پېژندنې پوهی ته ډېره پاملرنه وشوه.
د هنر په برخه کې انځور ګري، نقاشي، ډبر ليکونه، د بېلابيلو استوپو جوړول، فلز کاري، رنګ جوړول، د موسيقی هنر، نڅاوې او نورو هنرونو ډېره وده او پرمختګ وکړ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ